بېشکه الله تعالی په هر شي کې احسان (نیکي) فرض کړې ده

ابو یعلی شداد بن اوس رضي الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې فرمایلي یې دي: "بېشکه الله تعالی په هر شي کې احسان (نیکي) فرض کړې ده، نو که تاسو وژل کوئ، نو په ښه طریقه یې وکړئ، او که تاسو حلاله کوئ، نو په ښه طریقه یې وکړئ، او که ستاسو څخه یو څوک حلاله کوي نو خپله چاړه دې تېره کړي، او څاروی دې راحت کړي".

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې الله تعالی په ټولو شیانو کې نیکي کول فرض کړي دي، او احسان (نیکي) : په دوامداره توګه د الله تعالی په عبادت، خلکو ته په خبر رسولو او له مخلوقاتو څخه په ضرر لرې کولو کې د الله تعالی څار دی، لدې جملې څخه په وژلو او حلالولو کې له مهربانۍ څخه کار اخیستل دي. په قصاص اخیستلو کې د وژلو پر مهال نیکي کول: داسې چې د مقتول لپاره تر ټولو اسانه، سپکه او چټکه لاره غوره شي. او په ذبح کې د حلالې پر مهال نیکي کول دا دي چې : د چاړې په تېره کولو سره په څاروي شفقت وشي او د څاروي له مخې چاقو تېره نه شي چې هغه ورته ګوري، او دا چې د نورو څاروو د سترګو وړاندې حلال نه شي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66521